# داسلام او ترهګرۍ تر سر لیک لاندی دکنفرانس لنډ رپوټ

د ګردیز سیمه ییز دفتر

دافغانستان دعلمي او اسلامي څیړنیز کانون په نوښت او دبشري حقونو د خپلواک کمیسیون دګردیز دسیمه ییز دفتر په مرسته او همکارئ دلړم په ۸ نیټه د کمیسیون د سیمه ییزدفتر دغونډو په خونه کې د "اسلام او تروریزم" تر سر لیک لاندې یو کنفرانس جوړ شو، چي دپکتیا د والي د مرستیال په ګډون ددغه ولایت دعلماوو دشورا غړو د ولایتي شورا وکیلانو، قومي مشرانو، سپین ږیرو او شاوخوا ۱۲۰تنو مخورو په کې برخه اخیستې وه.

کنفرانس په خپل ټاکلي وخت دسهار ( 09:00 ) بجو پیل او له کابل نه د یاد شوی کانون راغلي پلاوي دکنفرانس په موخې او اهداف روښانه کړل. کنفرانس ته دپکتیا د والي د مرستیال له پرانیستونکي وینا وروسته، د بشري حقونو دخپلواک کمیسیون دګردیز سیمه ییز دفتر سرپرست مشر وینا واوروله، چې تروریزم یې یوه ناوړه غیر اسلامي او غیر اخلاقي عمل وباله. له دې پسې دکنفرانس وینا والو هر یو په خپل وار سره برخه والو ته د موضوع په اړوند خپلې ویناوې وکړې چې دګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخ شوې. په پای کې د کنفرانس پیغام ولوستل شو او دغه غونډه هیواد ته دسولې او امن د راتلو په هیله او دوعا پاي ته ورسید .

دکنفرانس په پاي کې ټولو برخه والو ته دبشري حقونو دخپلواک کمیسیون له خوا دغرمي د ډوډئ تیاری هم نیول شوی وو .

دکنفرانس تصویرونه :







